# د Medicaid د خلاصولو تولکیټ

## د پیرودونکو خدمتونو او د خدمت وړاندې کوونکو ته یادښت:

لاندې ټلیفوني سکریپټ او په مکرر ډول پوښتل شوي پوښتنې (FAQs) د دې لپاره ترتیب شوي دي تر څو د Medicaid له غړیو سره مرسته وکړي چې پوه شي د خپلې قضیې د بیا کتنې پر مهال څه وکړي. موږ سپارښتنه کوو کله چې د دغو بدلونونو په اړه خبرې کوئ، د امکان تر کچې پورې هغه کلیمې وکاروئ چې په د سکریپټ او FAQ په برخه کې چمتو شوې دي.

په Medicaid کې بدلونونه – او هغه ګامونه چې یو کس یې باید پوره کړي – هم یې تشریح کول او هم پرې پوهېدل ډېر سخت کار دی. موږ غواړو چې دا تاسو او هغو کسانو ته چې تاسو ورته خدمت کوئ د امکان تر کچې اسانه کړو. په دې سند کې موجوده لفاظي په یوه خورا ساده ژبه د بیا کتنې له لارې چمتو شوي ده تر څو پر دغو مهمو معلوماتو پوهېدل او د هغوی کارول اسانه کړي.

## سکریپټ:

د کوویډ-19 وبا په جریان کې هغه کسانو چې Medicaid یې درلود هغوی نوم لیکنه وکړه، حتی که نور پر شرایطو برابر هم نه وي. کوویډ-19 نور د عامې روغتیا یو بېړنی وضعیت نه دی. دا په دې معنا ده چې موږ باید د Medicaid ټولې قضیې وګورو تر څو ومومو چې څوک لا هم پر شرایطو برابر دي.

د کاري ځواک ډیپارټمنټ (DWS) د Medicaid لپاره پر شرایطو د برابروالي کتنې د 2023 کال د مارچ په 1 نېټه پیل کړې دي. **دا په دې معنا ده که چېرته تاسو یا ستاسو د کورنۍ کوم غړی نور د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر نه یاست، نو کېدای شي چې د Medicaid روغتیایي بیمه له لاسه ورکړئ.** موږ به ستاسو پر قضیې د 2024 کال د مارچ له میاشتې څخه لږ د مخه بیا کتنه وکړو تر څو معلومه کړو چې ایا تاسو لا هم د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر یاست که نه.

کله چې ستاسو قضیه د بیا کتنې لپاره چمتو شي، نو له تاسو سره به د پوست یا برېښنالیک له لارې اړیکه ونیول شي. که چېرته تاسو غواړئ معلومه کړئ چې په کومه میاشت ستاسو پر قضیه بیا کتنه کېږي، نو تاسو کولای شئ چې د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنټ (DWS) ته زنګ ووهئ یا [myCase](#) وګورئ.

تر هغې چې ستاسو پر قضیه بیا کتنه نه وي شوې، تاسو د هېڅ کار کولو ته اړتیا نلرئ. تاسو کولای شئ تر هغې پورې له خپلو امتیازاتو څخه ګټه واخلئ چې موږ ستاسو بیا کتنه بشپړه کړو. ټول هغه څه چې تاسو یې باید وکړئ، دا دي تر څو ډاډ حاصل کړئ هغه معلومات چې موږ یې ستاسو لپاره لرو سم دي.

- **ډاډ حاصل کړئ چې ستاسو معلومات اپډیټ دي**
- تاسو کولای شئ په خپل [myCase](#) حساب کې وګورئ چې معلومات مو سم دي که نه.

که چېرته تاسو په دې وروستیو کې بې ځایه شوي یاست یا مو د اړیکو په معلوماتو کې بدلون راغلی وي (لکه ستاسو د تلیفون شمېره یا د برېښنالیک پته) نو تاسو به اړتیا ولرئ چې خپل معلومات اپډیټ کړئ. د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنټ (DWS) به تاسو ته یو لیک در واستوي چې له لاندې موارد‌و څخه **یو** بیانوي:

- تاسو لا هم د Medicaid روغتیایي بیمې لپاره پر **شرایطو برابر** یاست.
- تاسو نور د Medicaid لپاره پر **شرایطو برابر نه** یاست. په لیک کې به یو لړ ګامونه وي چې تاسو کولای شئ د بلې روغتیایي بیمې ترلاسه کولو لپاره یې پوره کړئ.

- **نورو معلوماتو ته اړتیا ده** تر څو وکتل شي چې ایا تاسو لا هم د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر یاست که نه. له لیک سره به ستاسو لپاره فورمونه موجود وي چې ډک يي کړئ او کېدای شي چې د مرستندویه اسنادو (لکه د تادیي رسیدونه، بانکي سټېټمنټ او نور) غوښتنه وکړي.

## ضرب الاجلونو ته پام کوئ.

که چېرته تاسو فرمي ببرته را ستنې نکړئ یا ضرب الاجلونه له لاسه ورکړئ،نو کېدای شي چې خپل د Medicaid امتیازات له لاسه ورکړئ.

**ایا غواړئ زه ستاسو معلومات وګورم چې اپډېټ دي که نه؟** که چېرته تاسو غواړئ، نو زه کولای شم چې دغه معلومات ستاسو لپاره همدا اوس اپډېټ کړم، یا کولای شئ له لاندې شمېرو څخه یوې ته زنګ ووهئ تر څو ستاسو معلومات اپډېټ کړي:

- ستاسو روغتیایي پلان
- د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنت ته په 1-866-435-7414 شمېره
- د روغتیایي پروګرام استازي ته په 1-866-608-9422 شمېره

**ایا تاسو کومه پوښتنه لرئ؟**

Utah Department of
**Health & Human Services**
Integrated Healthcare

# مکررې پوښتنې

## ولې په Medicaid کې بدلونونه راغلي دي؟

د کوویډ-19 وبا په جریان کې هغه کسانو چې Medicaid یې درلود هغوی نوم لیکنه وکړه، حتی که نور پر شرایطو برابر هم نه وي. کوویډ-19 نور د عامې روغتیا یو بېړنی وضعیت نه دی. دا په دې معنا ده چې موږ باید د Medicaid ټولې قضیې وګورو تر څو ومومو چې څوک لا هم پر شرایطو برابر دي.

د کاري ځواک ډیپارټمنټ (DWS) د Medicaid لپاره پر شرایطو د برابروالي کتنې د 2023 کال د مارچ په 1 نېټه پیل کړې دي. **دا په دې معنا ده که چېرته تاسو یا ستاسو د کورنۍ کوم غړی نور د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر نه یاست، نو کېدای شي چې د Medicaid روغتیایي بیمه له لاسه ورکړئ.** موږ به ستاسو پر قضیې د 2024 کال د مارچ له میاشتې څخه لږ د مخه بیا کتنه وکړو تر څو معلومه کړو چې ایا تاسو لا هم د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر یاست که نه.

## زه باید څه وکړم؟

تر هغې چې ستاسو پر قضیه بیا کتنه نه وي شوې، تاسو د هېڅ کار کولو ته اړتیا نلرئ. تاسو کولای شئ تر هغې پورې له خپلو امتیازاتو څخه ګټه واخلئ چې موږ ستاسو بیا کتنه بشپړه کړو. ډاډ حاصل کړئ چې موږ ستاسو د اړیکو سم معلومات لرو. تاسو کولای شئ په خپل [myCase](myCase) حساب کې وګورئ تر څو ډاډ حاصل کړئ چې معلومات مو اپډېټ دي که نه.

- که چېرته تاسو په دې وروستیو کې بې ځایه شوي یاست یا مو د اړیکو په معلوماتو کې بدلون راغلی وي (لکه ستاسو د تلیفون شمېره یا د برېښنالیک پته) نو خپل معلومات اپډېټ کړئ.

**تاسو همدارنګه کولای شئ له لاندې شمېرو څخه یوې ته زنګ ووهئ تر څو معلومات مو اپډېټ کړي:**

- ستاسو روغتیایي پلان
- د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنټ ته په 1-866-435-7414 شمېره
- د روغتیایي پروګرام استازي ته په 1-866-608-9422 شمېره

## څنګه پوه شم چې ایا د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر یم که نه؟

خپل د [myCase](myCase) حساب، پوست او ایمیل ته هم پام کوئ. د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنټ (DWS) به ستاسو د myCase حساب اپډېټ کړي او ستاسو د قضیې له بیا کتلو څخه وروسته به تاسوته یو لیک یا ایمیل در واستوي.

د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنټ به تاسو ته یو لیک در واستوي چې له لاندې مواردو څخه **یو** بیانوي:

- تاسو لا هم د Medicaid روغتیایي بیمې لپاره پر **شرایطو برابر** یاست.
- تاسو نور د Medicaid لپاره پر **شرایطو برابر نه** یاست. په لیک کې به یو لړ ګامونه وي چې تاسو کولای شئ د بلې روغتیایي بیمې ترلاسه کولو لپاره یې پورته کړئ.

- **نورو معلوماتو ته اړتيا ده** تر څو وکتل شي چې ايا تاسو لا هم د Medicaid لپاره پر شرايطو برابر ياست که نه. له ليک سره به ستاسو لپاره فورمونه موجود وي چې ډک يې کړئ او کېدای شي چې د مرستندويه اسنادو (لکه د تاديي رسيدونه، بانکي سټېټمنټ او نور) غوښتنه وکړي.

## د خپلې بيا کتنې نېټه څنګه ومومم؟

که چېرته تاسو غواړئ چې معلومه کړئ په کومه مياشت مو پر قضيي بياکتنه کېږي، نو کولای شئ چې خپل د myCase حساب وګورئ يا له لاندي شمېرو څخه يوې ته زنګ ووهي:

- ستاسو روغتيايي پلان
- د کاري ځواک خدمتونو ډيپارتمنټ ته په 1-866-435-7414 شمېره
- د روغتيايي پروګرام استازي ته په 1-866-608-9422 شمېره

## کله چي زما پر قضيه بيا کتنه وشوه، بايد څه وکړم؟

په هغه ليک کې ليکل شوي لارښووني تعقيب کړئ چې تاسو د کاري ځواک خدمتونو له ډيپارتمنټ څخه ترلاسه کړی دی د بياکتني **ټول** فورمونه بشپړ کړئ او هر څومره ژر چې کېدای شي د کاري ځواک خدمتونو ډيپارتمنټ ته يې د پوست يا ايميل له لاري واستوئ تر څو ستاسو په طبي پوښښ کې د خلاوو له را منځته کېدو څخه په مخنيوي کې مرسته وکړي.

کېدای شي هغوی نورو معلوماتو ته اړتيا ولري تر څو وګوري چې ايا تاسو لا هم د Medicaid لپاره پر شرايطو برابر ياست که نه. هغوی به تاسو ته يو ليک در واستوي چې ستاسو لپاره به فورمونه هم ورسره وي تر څو ډک يې کړئ او کېدای شي چې د مرستندويه اسنادو (لکه د تاديي رسيدونه، بانکي سټېټمنټ او نور) غوښتنه وکړي. فورمونه ډک کړئ او هر څومره ژر چې کېدای شي بېرته يې هغوی ته واستوئ تر څو ستاسو په طبي پوښښ کې له هر راز تشي څخه په مخنيوي کې مرسته وکړي.

**خپل د بيا کتني بشپړ شوي فورمونه لاندې پتې ته واستوئ:**

DWS, PO Box 143245, Salt lake City, UT84114-3245

## که چېرته زه مدارک يا مرستندويه اسناد ور وانستوم څه به وشي؟

کېدای شي تاسو خپل د Medicaid روغتيايي بيمه له لاسه ورکړئ. ټول فورمونه او مرستندويه اسناد هر څومره ژر چې کېدای شي د کاري ځواک خدمتونو ډيپارتمنټ ته واستوئ. که چېرته تاسو له دې امله خپل د Medicaid امتيازات له لاسه ورکړي وي چې مدارک يا مرستندويه اسناد مو نه وو ور استولي، نو تاسو **90 ورځې** لرئ تر څو له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو پر قضيې غور وکړي.

**خپل د بيا کتني بشپړ شوي فورمونه لاندې پتې ته واستوئ:**

DWS, PO Box 143245, Salt lake City, UT 84114-3245)

## که چېرته زه خپله Medicaid روغتيايي بيمه له لاسه ورکړم، نو څه کولای شم؟

**موږ غواړو چې د يوتا ټول اوسيدونکي روغتيايي بيمه ولري او تر پوښښ لاندې پاتې شي.** که چېرته تاسو نور د Medicaid لپاره پر شرايطو برابر ونه ګڼل شئ، نو لاندې شيان به ترلاسه کړئ:

- يو ليک چې ستاسو د Medicaid د روغتيايي بيمې د پای ته رسېدو وخت به پکې ذکر شوی وي.
- تاسو به په اتومات ډول د فدرال روغتيايي بيمې بازار ته ولېږدول شئ (په دې شرط چې تاسو مدارک او مرستندويه اسناد ور واستوئ).
- د فدرال روغتيايي بيمې بازار په اړه معلومات.
- په استيناف غوښتنې په اړه معلومات. دا په دې معنا ده که چېرته تاسو فکر کوئ چې په شرايطو برابر ياست، مګر د کاري ځواک خدمتونو ډيپارټمنت تاسو ته ليک در استولی وي او پکې ليکلي يې وي چې تاسو نور د Medicaid لپاره پر شرايطو برابر نه ياست، نو کولای شئ له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو پر قضيه بيا ځلې کتنه وکړي.

### ضرب الاجلونو ته پام کوئ.

- تاسو بايد په 90 ورځو کې د بيا کتنې غوښتنه وکړئ.
- که چېرته تاسو له دې امله خپل د Medicaid امتيازات له لاسه ورکړئ چې هغه مدارک مو ور استولي نه وو کوم چې دوی غوښتي وو، نو تاسو به په اتومات ډول د فدرال روغتيايي بيمې بازار ته **و نه لېږدول** شئ.

## په اتومات ډول د فدرال روغتيايي بيمې بازار ته د لېږدول کېدو معنا څه ده؟

هغه خلک چې نور د Medicaid لپاره پر شرايطو برابر نه وي، هغوی به په اتومات ډول د فدرال روغتيايي بيمې بازار ته ولېږدول شي (healthcare.gov). کله چې تصميم ونيول شي، د اوس لپاره د دې لېږدونې لپاره يوه اتومات پروسه موجوده ده. که چېرته دوی د Medicaid پوښښ له دې امله له لاسه ورکړی وي چې هغوی خپل مدارک نه وو بشپړ کړي يا يې نه وو ور استولي، نو لېږد به ترسره نشي.

## د روغتيايي بيمې نور کوم غوراوي موجود دي؟

هغه خلک چې د Medicaid روغتيايي بيمې لپاره پر شرايطو برابر نه دي لا هم کولای شي چې د فدرال روغتيايي بيمې د بازار يا healthcare.gov له لارې پوښښ ترلاسه کړي. ډېری خلک په يوه روغتيايي پلان کې د سپما لپاره پر شرايطو برابر دي تر څو خپل مياشتنې د بيمې حق او شريک تاديات کم کړي. سپماوې د هغوی د کورنۍ د اندزې او عايد پر بنسټ دي. د بازار ټول پلانونه داسې شيانو ته پوښښ ورکوي لکه تجويز شوي درمل، د ډاکټر ليدنې، بېړنۍ پاملرنه، د روغتون ليدنې او نور.

هغه خلک چې Medicaid له لاسه ورکوي 60 ورځې وخت لري تر څو په بازار کې روغتيايي بيمې ته نوم ليکنه وکړي. د روغتيايي بيمې پلانونه معمولاً هر کال د نوم ليکنې لپاره يو وخت لري چې خلک کولای شي روغتيايي بيمې ته نوم ليکنه وکړي. هغوی يوازې يو چا ته اجازه ورکوي تر څو د نوم ليکنې پر مهال خان راجستر کړي، مګر دا چې هغوی د "وړ والي ژوندی محفل" ولري. که چېرته کوم څوک د Medicaid لپاره پر شرايطو برابر نه وي، نو دا "وړ والي ژوندی محفل" ګڼل کېږي. دا په دې معنا ده چې **خلک د خپل د Medicaid د امتيازاتو له پای ته رسېدو څخه وروسته 60 ورځې** وخت لري تر څو د نوي روغتيايي پلان لپاره نوم ليکنه وکړي.

که چېرته تاسو د Medicaid امتیازاتو له پای ته رسېدو څخه وروسته د 60 ورځو په جریان کې د روغتیایي بیمې بل پلان ته نوم لیکنه ونکړئ، نو تاسو به اړ شئ چې د نوم لیکنې راتلونکې دورې ته انتظار وکړئ. پر دې پوهېدل مهم دي که چېرته تاسو له دې امله خپل د Medicaid امتیازا له لاسه ورکړي وي چې ضرب الاجل ته پابند نه وئ یا مو هغه مدارک یا اسناد نه وي ور استولي چې DWS غوښتنه کړې ده، نو تاسو به د فدرال روغتیایي بیمې بازار ته **و نه لیږدول** شئ.

### "پر شرایطو د برابرتیا ژوندی محفل" څه دی؟

- تاسو واده کړی یاست یا مو طلاق اخیستی دی.
- تاسو ماشوم لرئ یا مو پرکتی نیولی دی.
- کوم څوک چې له تاسو سره په کور کې اوسېږئ، هغه مړه کېږي (هغه شخص چې تاسو یې په خپلو مالیاتو کې ادعا کوئ).
- د کورنی په اندازه کې بدلونونه (دا د هغو خلکو شمېر دی چې تاسو یې په خپلو مالیاتو کې ادعا کوئ).
- ستاسو د کورنی په عاید کې بدلونونه (که هغه زیاتوالی وي یا کموالی).
- تاسو نور د Medicaid یا CHIP لپاره پر شرایطو برابر نه یاست ځکه چې ستاسو عاید زیات شوی دی.
- تاسو خپله هغه روغتیایي بیمه له لاسه ورکړې ده چې د خپل ګومارونکي یا دندې له لورې مو لرله.
- ستاسو د روغتیایي بیمې پلان ستاسو پوښښ لغوه کوي، حتی که تاسو د خپلې بیمې حقونه هم ادا کړي وي.
- ستاسو د COBRA پوښښ د اعتبار نېټه پای ته رسېږي.
- تاسو 26 کلنی ته رسېږئ او نور د خپلو والدینو په روغتیایي بیمه کې نشئ پاتې کېدای.
- یوه بل ښار، ایالت یا زیپ کوډ ته بې ځایه کېږئ.
- تاسو له یوه زندان یا بندخونې څخه بهر کېږئ.
- تاسو کورنی تاوتریخوالی تجربه کوئ.
- له وسله والو ځواکونو څخه د ترخیص پر مهال یوه تېروتنه تاسو د روغتیایي بیمې له ترلاسه کولو څخه پاتې کوي.

که چېرته تاسو د روغتیایي بیمې یوه نوي پلان ته په نوم لیکنه کې مرستې ته اړتیا لرئ، 211 شمېرې ته زنګ ووهئ تر څو له [Take Care Utah](Take Care Utah) سره یوه وړیا لیدنه تنظیم کړي.

### ایا زما نوې روغتیایي بیمه به ګرانه وي؟

ډېری خلک په یوه روغتیایي پلان کې د سپما لپاره پر شرایطو برابر دي تر څو تاسو خپل میاشتنی د بیمې حق او شریک تادیات کم کړي. سپماوې ستاسو د کورنی د اندزې او عاید پر بنسټ دي. د بازار ټول پلانونه داسې شیانو ته پوښښ ورکوي لکه تجویز شوي درمل، د ډاکټر لیدنې، بېړنی پاملرنه، د روغتون لیدنې او نور.

## د بیا کتنې درخواست څنګه وکړم؟

د بیا کتنې د درخواست معنا داده که چېرته تاسو فکر کوئ چې په شرایطو برابر یاست، مګر هغوی تاسو ته لیک در استولی وي او پکې لیکلي یې وي چې تاسو نور د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر نه یاست، نو کولای شئ د کاري ځواک خدمتونو له ډیپارټمنت څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو پر قضیه بیا ځلې کتنه وکړي. که چېرته تاسو د مستحق والي د تعیینولو له پرېکړې سره موافق نه یاست

او غواړئ چې پر پرېکړې د بیا کتنې غوښتنه وکړئ، نو د اورېدنې درخواست باید د هغې خبرتیا له نېټې څخه په 90 ورځو کې واستول شي له کومې سره چې تاسو موافق نه یاست.

د Medicaid او CHIP لپاره پر شرایطو د برابروالي منصفانه اورېدنې باید د کاري ځواک خدمتونو د ډیپارټمنت (DWS) د قضاوتونو له څانګې سره ثبت شي. تاسو به اړتیا ولرئ چې فورم بشپړ کړئ او DWS ته یې را ستون کړئ. د فورم او د عادلانه اورېدنو په اړه نورو معلوماتو لپاره د DWS وېب سایټ ته مراجعه وکړئ. که تاسو پوښتنې لرئ، نو کولای شئ fairhearings@utah.gov ته ایمیل واستوئ یا 1-877-837-3247 شمېرې ته زنګ ووهئ.

**د عادلانه اورېدنې لپاره خپل بشپړ کړی درخواست لاندې مرجع ته واستوئ:**
د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنت – منصفانه اورېدنې
پوست بکس 143245, Salt Lake City, UT 84114-3245

## کولای شم د خپل Medicaid بیا کتنه ژر بشپړه کړم؟

**نه.** موږ له تاسو څخه غوښتنه کوو چې تر هغه وخته پورې انتظار وکړئ چې ستاسو قضیه د بیا کتنې لپاره چمتو شي ځکه چې موږ د بیا کتنې لپاره ډېرې قضیې لرو. تر هغې چې ستاسو پر قضیه بیا کتنه نه وي شوې، تاسو د هېڅ کار کولو ته اړتیا نلرئ. تاسو کولای شئ تر هغې پورې له خپلو امتیازاتو څخه ګټه واخلئ چې موږ ستاسو بیا کتنه بشپړه کړو.

- ډاډ حاصل کړئ چې موږ ستاسو د اړیکو سم معلومات لرو. تاسو کولای شئ په خپل myCase حساب کې وګورئ تر څو ډاډ حاصل کړئ چې معلومات مو اپډېټ دي که نه.
- که چېرته تاسو په دې ورستیو کې بې ځایه شوي یاست یا مو د اړیکو په معلوماتو کې بدلون راغلی وي (لکه ستاسو د تلیفون شمېره یا د برېښنالیک پته) نو خپل معلومات اپډېټ کړئ.

## څنګه کولای شم خپله بیا کتنه په چټکۍ سره ترسره کړم؟

تر هغې چې ستاسو پر قضیه بیا کتنه نه وي شوې، تاسو د هېڅ کار کولو ته اړتیا نلرئ. تاسو کولای شئ تر هغې پورې له خپلو امتیازاتو څخه ګټه واخلئ چې موږ ستاسو بیا کتنه بشپړه کړو. مګر ځینې کارونه شته چې تاسو کولای شئ خپله پروسه ورسره چټه او اسانه کړئ:

- که چېرته تاسو په دې ورستیو کې بې ځایه شوي یاست یا مو د اړیکو په معلوماتو کې بدلون راغلی وي (لکه ستاسو د تلیفون شمېره یا د برېښنالیک پته) نو خپل معلومات اپډېټ کړئ. تاسو کولای شئ خپل معلومات په خپل myCase حساب کې اپډېټ کړئ.
- که چېرته د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنت کوم مرستندویه اسنادو (د تادیې پاڼې، بانکي سټېټمنټ او نور) ته اړتیا لري تر څو وګوري چې ایا لا هم د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر یاست که نه، نو تاسو ته به ووایي. **هر څومره ژر چې کولای شئ دا ور واستوئ.** دا به د مستحق والي تعیینولو له کارکوونکو سره مرسته وکړي چې ستاسو بیاکتنه ژر بشپړه کړي.

## که چېرته زه نور په یوتا کې ژوند نه کوم، نو باید څه وکړم؟

د یوتا Medicaid یوازې د هغو خلکو لپاره دی چې په یوتا کې اوسېږي. که چېرته تاسو بل ایالت ته بې ځایه شوي یاست، نو **باید** د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنت ته زنګ ووهئ او هغوی ته ووایاست.

## خپل د Medicaid قضیه څنګه بنده کړم؟

د کاري ځواک خدمتونو ډیپارټمنت ته په 7414-435-866-1 شمېره زنګ ووهئ او له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو قضیه بنده کړي.

# له هغه شخص سره څنګه مرسته وکړم چې خپل د **Medicaid** روغتيايي بيمه يې له لاسه ورکړې وي؟

## ډاډ حاصل کړئ چې د شخص معلومات اپډېټ دي

هغوی کولای شي په خپل [myCase](https://jobs.utah.gov/mycase) حساب کې خپل معلومات په [jobs.utah.gov/mycase](https://jobs.utah.gov/mycase) کې په آنلاين بڼه وګوري چې سم دي او که نه يا کولای شي له لاندې شمېرو څخه يوې ته زنګ ووهي او خپل معلومات اپډېټ کړي:

- د هغوی روغتيايي پلان
- د کاري ځواک خدمتونو ډيپارتمنت ته په 1-866-435-7414 شمېره
- د روغتيايي پروګرام استازي ته په 1-866-608-9422 شمېره

## شخص ته ووایاست چې خپل د **myCase** حساب، ليک او ايميل ته ځانګړی پام وکړي.

د کاري ځواک خدمتونو ډيپارتمنت به د هغوی myCase حساب اپډېټ کړي او د قضيې له بيا کتنې څخه وروسته به هغوی ته يو ليک يا ايميل ور واستوي. دغه ليک به **يو** له لاندې مواردو څخه ووايي:

- هغوی لا هم د Medicaid روغتيايي بيمې لپاره پر **شرايطو برابر** دي.
- هغوی نور د Medicaid لپاره پر **شرايطو برابر** نه دي. په ليک کې به يو لړ ګامونه وي چې هغوی کولای شي د بلې روغتيايي بيمې ترلاسه کولو لپاره يې پوره کړي.
- **نورو معلوماتو ته اړتيا ده** تر څو وکتل شي چې ايا هغوی لا هم د Medicaid لپاره پر شرايطو برابر دي يا نه. له ليک سره به د هغوی لپاره فورمونه موجود وي چې ډک يې کړي او کېدای شي چې د مرستندويه اسنادو (لکه د تاديې رسيدونه، بانکي سټېټمنټ او نور) غوښتنه وکړي. **هغوی بايد دغه شيان هر څومره ژر چې کېدای شي واستوي ــ تر څو ضرب الاجل له لاسه ورنکړي.**

ډاډ حاصل کړئ چې هغه شخص پوهېږي چې يوازې **90 ورځې** لري تر څو د کاري ځواک خدمتونو له ډيپارتمنت څخه غوښتنه وکړي چې د هغوی پر قضيه بيا غور وکړي، که چېرته د Medicaid امتيازات له دې امله له لاسه ورکړي وي چې خپل مدارک يا مرستندويه اسناد يې نه وو ور استولي. دا هم مهم دي چې هغوی ته ووایاست که چېرته هغوی له دې امله خپل د Medicaid امتيازات له لاسه ورکړي وي چې ضرب الاجل ته پاېبند نه وو يا يې هغه مدارک يا اسناد نه وو ور استولي چې DWS غوښتنه کړې ده، نو دوی به د فدرال روغتيايي بيمې بازار ته په اتومات ډول **و نه لېږدول** شئ.

## له شخص سره مرسته وکړئ تر څو د روغتيايي بيمې بل پلان ته نوم ليکنه وکړي.

هغه خلک چې له دې امله خپل د Medicaid روغتيايي بيمه له لاسه ورکوي چې اسناد يې بېرته راوړي نه دي، نو لا هم 90 ورځې وخت لري چې خپل پوښښ بېرته ترلاسه کړي. هغوی ته ووایاست چې د بيا کتنې فورم يا نور هغه اسناد ژر تر ژره بېرته ور واستوي چې DWS ورته اړتيا لري.

هغه خلک چې د Medicaid روغتیایي بیمي لپاره پر شرایطو برابر نه دي لا هم کولای شي چې د **فدرال روغتیایي بیمي د بازار یا** [healthcare.gov](healthcare.gov) له لارې پوښښ ترلاسه کړي. ډېری خلک په یوه روغتیایي پلان کې د سپما لپاره پر شرایطو برابر دي تر څو خپل میاشتني د بیمي حق او شریک تادیات کم کړي. سپماوې د هغوی د کورنۍ د اندزې او عاید پر بنسټ دي. د بازار ټول پلانونه داسي شیانو ته پوښښ ورکوي لکه تجویز شوي درمل، د ډاکټر لیدنې، بېړنۍ پاملرنه، د روغتون لیدنې او نور.

هغه خلک چې Medicaid له لاسه ورکوي 60 ورځې وخت لري تر څو په بازار کې روغتیایي بیمي ته نوم لیکنه وکړي. د روغتیایي بیمي پلانونه معمولاً هر کال د نوم لیکنې لپاره یو وخت لري چې خلک کولای شي روغتیایي بیمي ته نوم لیکنه وکړي. هغوی یوازې یو چا ته اجازه ورکوي تر څو د نوم لیکنې پر مهال ځان راجستر کړي، مګر دا چې هغوی د "وړ والي ژوندی محفل" ولري. که چېرته کوم څوک د Medicaid لپاره پر شرایطو برابر نه وي، نو دا "وړ والي ژوندی محفل" ګڼل کېږي. دا په دې معنا ده چې **خلک د خپل Medicaid د امتیازاتو له پای ته رسېدو څخه وروسته 60 ورځې** وخت لري تر څو د نوي روغتیایي پلان لپاره نوم لیکنه وکړي.

د نورو معلوماتو لپاره [/healthcare.gov/medicaid-chip/transfer-to-marketplace](healthcare.gov/medicaid-chip/transfer-to-marketplace/) ته مراجعه وکړئ.